لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتـــــون

علمي چارو معاونیت

# د علمي فعالیتونو د ارزونې کړنلاره

کال:۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحيم

**۱ .هدف(Purpose)**

د دې کړنلارې هدف دا دی چې د پوهنتون په ټولو پوهنځیو کې د استادانو د تدریس، اداري او څېړنیزو فعالیتونو ارزونه په یوه معیاري، شفاف او منظم ډول ترسره شي، ترڅو د تدریس کیفیت د ستونزو د حل او د بهبود لپاره پلانونه ترتیب شي.

**۲ .ساحه(Scope)**

دا کړنلاره په لاندې ارزونو تطبیقېږي:

د استاد خودي ارزونه

د څانګې د امر له لورى د استاد اداري تدریسي او څېړنیزه ارزونه

د پوهنځي د کیفیت لوړاوی کمیټې له لورى د تدریس کیفیت ارزونه

د پوهنتون مرکزي کیفیت لوړاوي کمیټی له لوري د هر پوهنځي ارزونه

ټولې ارزونې د محصلینو د فیډبک پر بنسټ د ځانګړو فورمو له مخې ترسره کېږي

**۳ .ارزونې مرحلې او مهالویش(Evaluation Phases & Timeline)**

۱ .خودي ارزونه(Self-assessment by Lecturer)

وخت :د سمستر ۱۱مه اونۍ

ترسره کوونکي :استاد

موخه :د استاد د ځان سره د تدریس کیفیت ارزونه، شخصي تحلیل، او د راتلونکي لپاره د کمزورۍ پیژندنه

میتود :د ځانګړې فورمې له لارې د ځان ارزونه

۲ **.د څانګې د امر ارزونه(Assessment by Department Head)**

وخت :د سمستر ۱۲مه اونۍ

ترسره کوونکي :د څانګې آمر

محتوا:

تدریسي چارې :د تدریس نظم، درسي مواد، د زده‌کوونکو لارښوونه، د ټولګی مدیریت

اداري چارې :د دندو پوره کول، راپور ورکول، وخت پابندي، د څانګې غونډو کې ګډون

څېړنيزې چارې :څېړنې، مقالې، علمي کانفرانسونه، نوښت او مسلکي پرمختګ

موخه :د استاد علمي، اداري، مسلکي او څېړنيز فعاليتونو بشپړه ارزونه

ميتود :د ځانګړي فورم له مخې ارزول + د کاري اسنادو مشاهده

۳ .د کيفيت لوړاوي کميټې له لوري د تدريس د کيفيت ارزونه

وخت :د سمستر ۱۳مه اونۍ

ترسره کوونکي :د پوهنځي د کيفيت لوړاوي کميټه

محتوا:

د تدريس کيفيت ارزونه

د ټولګۍ مشاهده(Class Observation)

د محصلينو فيډبک تحليل

موخه :د تدريس معياري اړخونو ارزونه

۴ .د پوهنتون د کيفيت لواړي اصلی کميټی له لوری ارزونه(University-Level Evaluation)

وخت :د سمستر ۱۴مه اونۍ

ترسره کوونکي :د پوهنتون د کيفيت لوړاوي اصلي کميټه

محتوا:

د هر پوهنځي د تدريس کيفيت ارزونه

د ټولې پوهنځي په کچه تحليل

پايله:

د هر پوهنځي لپاره بيل، مفصل او تحليلي راپور تيارېږي

راپور د پوهنځي له مشرتابه سره شريکېږي

اصلي ستونزې او وړانديزونه په کې درج کېږي

**۴ .د ارزونې میکانیزم(Evaluation Mechanism)**

ټولې ارزونې د لاندې مرحلو له لارې ترسره کېږي:

محصلین د ځانګړو فورمو له لارې د مضمون د کیفیت ارزونه کوي

فورمې د څانګې او کمیټې له لوري راټولېږي

استاد، څانګه او د کیفیت لوړاوي کمیټه د خپلو اړونده ارزونو تحلیل ترسره کوي

د هر استاد او مضمون انفرادي راپورونه جوړېږي

پایلې له څانګې او استاد سره شریکېږي

۵ .د تحلیل او راپور جوړولو پروسه(Analysis & Reporting Process)

کمیټه ټولو فورمو ته نمرې ورکوي

احصایوي تحلیل ترسره کوي

د هر استاد لپاره ځانګړي تحلیل لیکل کېږي

پایلې د څانګې، پوهنځی او پوهنتون له رهبري سره شریکېږي

د پوهنتون له لوري د هر پوهنځي لپاره جلا راپور جوړېږي

٦ .د اصلاح پروسه(Improvement Process)

١ .د استاد انفرادي اصلاح پلان(IAP – Individual Action Plan)

استاد د ارزونې پایلو پر بنسټ خپل IAP جوړوي

د استاد انفرادی پلان کې د ترسره شویو ارزونو څخه لاندي برخي باید شاملی وی

ستونزه

د اصلاح څرنګوالي

د ترسره کېدو وخت

متوقعه پایله

۲ .د څانګې د تدریس د ښه‌والي پلان(Teaching Improvement Plan – TIP)

د څانګې آمر د ټولو ارزونو پر بنسټ TIP جوړوي

دې پلان کې شاملېږي:

د تدریس معیاري کول

د استادانو روزنې

د تدریسي موادو ښه والي

د ستونزو حل لارې

د نوې ټکنالوژۍ کارول

۷ .محرمیت(Confidentiality)

د محصلینو معلومات محرم پاتې کېږي

د استاد انفرادي نمرې یوازې د اړوندو ادارو لپاره ښکاره کېږي

۸ .د اعتراض حق(Appeal Process)

استاد کولی شي د ارزونې پر پایلو اعتراض وکړي.
پروسه:

لیکلي عریضه

د کمیټې بیا کتنه

رسمي فیصله

۹ .ضمیمې(Annexes)

د خودي ارزونې فورمه

د څانګې د امر ارزونې فورمه

د کمیټې ارزونې فورمه

د پوهنتون عمومي ارزونې فورمه

د AIP نمونه

د TIP نمونه

د علمي فعالیتونو د ارزونې پورتنۍ کړنلاره د پوهنتون علمي شورا (۱۲) ګڼه ۱۴۰۴/۱۰/۰۸ نېټه پروتوکول کې ثبت او تائید ده

**دوکتور عبدالحمید سیرت**

**د تابش پوهنتون رئیس**